همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د استخراج په سکتور کې شې حکومتولۍ ته وده ورکول – د معلوماتو تبادله او همکاري

د افغانستان د کانونو او پټرولیم د وزارت سرپرستي میرمن نرگس نهان په نوموړې ورکشاپ کې د خپلې وینا په ترځ کې داسې وویل: «زمونږ وزارت غواړي چې په دې برخه نور هم کار وکړي. مونږ په هیواد کې د EITI د سټنډرډ د پلې کیدو د بریالي څیړنې او تائید لپاره د روڼتوب یوه انټرنتي پاڼه جوړه کړېده چې په هغه د استخراج او عوایدو ارقام او معلومات په ژوندۍ توګه خپریږي ترڅو دغه معلومات د شریکانو سره شریک شي او په نوموړې لړۍ کې وکارول شي.»

د افغانستان د کان ایستنې سکتور یو لوی اقتصادي پوتنسیال لري چې کولای شي اقتصادي ودې ته د پام وړ زیاتوالی ورکړي. د EITI سټنډرډ د استخراج په سکتور کې د روڼتوب او حکومتولۍ نړیوال نورمونه ګڼل کیږي. دغه سټنډرډ د نفت، ګاز او منرالونو د سرچینو د کنټرول او مدیریت معیارونه ټاکي چې د حکومتونو له خوا د شرکتونو او مدني ټولنې په همکاری پلی کیږي. هغه هیوادونه چې دا معیارونه پلی کوي، د مالیاتو، جوازونو، ترړونو، تولیداتو او د طبیعي سرچینو د استخراج د نورو مهمو عناصرو په اړه اطلاعات برابروي. افغانستان د ۲۰۱۰ کال راهیسې د نوموړي سازمان له خوا د دغه سټنډرډ د پلي کیدو د څیړنې او تائید یو کاندید دئ.

د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت دارالانشا په ډاګه کړه چې د اړونده لوریو په منځ کې د همکارۍ او د معلوماتو د شریکولو کموالی او همدارنګه د نوموړو معیارونو څخه د عمومي پوهاوي نشتوالی په افغانستان کې د دې سازمان د نورمونو د پلی کیدو د تائید د پروسې خنډونه دي. د سکتوري وزارتونو یو شمیر واحدونه او همدارنګه استخراجي شرکتونه د نوموړو شمیرو او معلوماتو د راټولولو دنده په غاړه لري. د دې ورکشاپ موخه د نوموړو مراجعو تر منځ د اغیزمنو اړیکو او د پوهې شریکولو ته رسیدل وو. د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت دارالانشا مشر ښاغلي حشمت الله سایس څرګنده کړه چې «د EITI د نورمونو په باب پوهاوي اړینه ده. مونږ یوازې هله کولای شو د بریالو پایلو هیله ولرو چې په ګډه سره خپل رول په ښه توګه ترسره کړو.»

د ورکشاپ ګډونوال په هیواد کې د نوموړي سازمان له خوا د EITI سټنډرډ د تائید د پروسې د شرایطو او د اړونده ننګونو د رفع کولو د څرنګوالي سره آشنا شول. هغوی اوس کولای شي اړونده معلومات د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت دارالانشا ته برابر کړي. دا ورکشاپ د اړونده مراجعو یوه شبکه منځته راوړه چې پخوا به یې په یوازې توګه فعالیت کاوه. دغه مراجع همدارنګه په نوموړې پروسه کې د خپل رول په اړه یو بل مسئول ګڼي.

د نوموړي سازمان له خوا په افغانستان د سټنډرډ د پلې کیدو رسمي تائیدول به د هیواد د استخراج په سکتور کې یوه لویه سمونتیا وي چې عواید به په بشپړ دقت او حساب ورکونې سره راټولیږي او دا کار به د افغانستان د پراختیا سره مرسته وکړي. د معلوماتو شفافیت او روڼتوب به د اداري فساد د مهارکولو، د یوه باوري او عادلې اداري په توګه د حکومت د درېځ د ټینګولو او د نړیوالو پانګه والو د جلبولو سبب وګرځي.

*د افغانستان په استخراجي سکتور کې د ښې حکومتولۍ د ودې پروګرام (MinGov) د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH د اداري له خوا د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) په استازیتوب پلی کیږي. د دې لپاره چې په افغانستان کې د کان ایستنې د سکتور پوتنسیال په بشپړه توګه وکارول شي، نوموړی پروګرام په پام کې لري چې په استخراجي سکتور کې دولتي عواید زیات کړي، پانګونه وهڅوي او د افغانستان د اداري فساد سره مبارزه وکړي. دا پروژه اړونده مراجعو ته روزنه ورکوي تر څو تامین کړي چې د کان ایستنې کارونه په شفافه توګه او د هیواد د نافذه قوانینو او د روغتیا او ژوند چاپیریال د نړیوالو معیارونو سره سم ترسره کیږي. د نورو کارونو تر څنګ، دې پروژې د ۲۰۱۴ کال راهیسې د بیلابیلو موضوعګانو لکه د کانونو د پلان جوړونې، د کان ایستنې د اقتصاد او د کان ایستنې د ځارنې د مدیریت په باب ۲۶ روزنیز کورسونه د کانونو د ۳۸۰ تنو ځارونکو او د کانونو او پټرولیم د وزارت او د هغه د ولایتي ادارو د نورو کارکوونکو لپاره جوړکړي دي. په عین حال کې، نوموړي پروګرام په دې سکتور کې د ونډې اخیستنې د ودې په موخه د افغانو ښځو لپاره ۱۳ سکالرشیپونه تمویل کړي دي. برسیره پر دې، دا پروژه د افغانستان د استخراجي صنایعو د روڼتوب د*

*نوښت (AEITI) څخه د روڼتوب د ودې او اداري فساد سره د مبارزې په موخه ملاتړ کوي.*

Teaser text:

کابل، د ۱۳۹۸ کال د غويي د مياشتې ۱۵مه نيټه – پرون د افغانستان د استخراجي صنايعو د شفافيت نوښت او د افغان_المان د همکارۍ اداري په کابل کې د دولتي ادارو، خصوصي سکتور او مدني ټولني د ۵۰ تنو استازو په ګډون يو ورکشاپ جوړ کړ. د دې ورکشاپ د جوړولو موخه داوه چې د استخراج په سکتور کې د اړونده مراجعو تر منځ مناسبه همکاري او د معلوماتو تبادله بيرته را منځته کړي. دا راز هڅې به په افغانستان کې د کان ايستنې په باب د ارقامو او معلوماتو د توحيد سبب شي او د ۲۰۱۹ کال د جون په مياشت کې د استخراجي صنايعو د شفافيت د نوښت (EITI) سازمان له خوا په هيواد کې د دې سازمان د سټنډرډ د پلی کيدو د څيړنې يو شرط به برابر کړي.

تقدمونه:

ښه حکومتوالي

Province:

کابل

Downloads:

د استخراج په سکتور کې ښې حکومتولی ته وده ورکول – د معلوماتو تبادله او همکاري

Image:

PR_MinGov_Workshop_Data_Exchange

د خبر پول:

Press release

15.02.1398

- English
- Deutsch
- دری